(c) ketabton.com: The Digital Library



## ط ع غ ف ق

طالبه خدای که به ملا شې
طبیبه لاس مې څله ګورې
عاشق سرې له رنګه تور وي
عاشق کم عقل دی چې ژاړي
عاشقي لال بېلتون ښامار دی
عاشقي لویه پاچاهي ده
عاشقي مه کوئ عالمه
عاشقي وای جدایي نه وای
عالمه څنګه ترې توبه کړم
عالمه یو تر بل ځارېږئ
عالمه یو له بل ځارېږئ
عزرایل هسې ځان بدنام کړ
عطر مې پورې په کفن کړه
عمر چې تېر شي اشنا هېر شي
عمر دی ډېر شه خپله یاره
غرور په حسن ناداني ده
غل خو په توره شپه کې غلا کړي
غم دې دا ستا نه وفادار دی
غم دې راځي زه پرې خوشحال یم
غم کې پیدا په غم کې لوی شوم
فقیره کبر پکې مکړه
قبر مې څنګ کې ورته جوړ کړئ
قبر مې لوڅ کړه حال مې ګوره
قرضدار مې نه یې چې پټ ګرځې

په کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه
زه خو اشنا د زړه په سر ویشلی یمه
سوی په اور وي معشوقې رټلی وینه
باران په تیګو باندې څه اثر کوینه
څوک چې د لال تمه کوي ښامار به یې خورینه
چې معشوقه یې په طرف ولاړه وینه
بس کړه چې زما په ځوانۍ اور ولګېدنه
خدایه په در کې به دې څه کم شوي وونه
ما پرې اخیستي دي د کلي تهمتونه
ما د مجلس یاران لیدل چې خاورې شونه
مرګ راپسې دی نیمه خوا به پاتې شونه
زه د جانان مینې پخوا وژلی یمه
په تار د زلفو دې لیلا ورکړه ټکونه
ستا دې قسم وي چې ما هېر نکړې مینه
زما د زړه ستنې په تا ولاړې د ینه
حسن د ژمي مازدیګر دی تېر به شینه
تا رانه زړه په رڼا ورځ وتښتوونه
ته کله کله غم دې تل راسره وینه
بې غمه خدای دې عاشق تل په غم کې وینه
په غم مین په غم به تور لحد ته ځمه
چې لیلا خاورې درکوي تره پنډونه
چې مرور جانان په ګور کې پخلا کړمه
په خُمارو سترګو مې پرېوتل ګردونه
زه خو دې بس د ښکلي مخ دیدن کومه

